# د کابل ښار ککړه هوا، عوامل او حل لارې

**لیکوال:** امان الله احساس، د چاپیریال ساتنې او طبیعي زیرمو څیړونکی

د هوا ککړتیا په نړیواله کچه د ګڼو هیوادونو لپاره یو ستر سرخوږی ده. نه یواځې داچې وروسته پاتې هیوادونه ورسره لاس او ګریوان دې بلکې د نړۍ ګڼ پرمختللي هیوادونه هم ورځخه سر ټکوي. کله چې په اتلسمه پیړۍ کې په انګلستان کې صنعتي انقلاب راغی ددې انقلاب له رامینځته کیدلو سره د انسانانو په ژوند کې ستر بدلونونه رامینځته شول، دې بدلونونو د پریمانه ګټو ترڅنګ د انسانانو ژوند له یو شمیر ګواښونه سره هم مخ کړ، چاپیریالي ګواښونه یې د بیلګې په توګه یادو.

داچې له تیرو پیړیو سره په پرتله په یوویشتمه پیړۍ کې پوهه او ټکنالوژۍ تربل هر وخت زیات پرمختګ لري، خو د پوهې او ټکنالوژۍ دا مخکې تګ لا هم په دې نده برلاسی چې د چاپیریالي ګواښونه هر اړخیزه مقابله او مخنیوی وکړي، نه یواځې دا؛ بلکې په ګڼو موارادو کې همدا تکنالوژۍ چاپیریال ګواښي.

دا مهال نړۍ له ګڼو سترو چاپیریالي ګواښونو لکه نړیواله تودوخه، اقلیمي بدلونونه، د هوا، خاورې او اوبو ککړتیا د دښتو پراختیا د ځنګلونو له مینځه تګ او ... سره لاس او ګریوان دی، دا ګواښونه د انسانانو، حیواناتو او نباتاتو په ګډون د ټولو ژوندي ساکښو ژوند ګواښي.

چاپیریالي بدلونونه او ګواښونه سیاسي پولې، دین، مذهب او نژاد نه پیژني او ټولې نړۍ ته په یوه سترګه ګوري او ګواښې یې؛ ولې د چاپیریالي بدلونونو اغیزې په وروسته پاتې او مخ پر ودې هیوادونه کې معمولآ د ډیروالي ترڅنګ ناوړه اغیزې هم لري، افغانستان چې د مخ پر ودې هیوادونو په لړ کې دی دلته هم له ډیره بده مرغه چاپیریالي ګواښونه پریمانه دي او وژونکې اغیزې لري او هرکال زرګونه خلک دیادو ګواښونه له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي. هغه طبیعي پیښې چې د چاپیریالي بدلونونو په پایله کې رامینځته کیږي هرکال په افغانستان کې نه یواځې له سلګونه کسانو ژوند اخلې بلکې ګڼ مالي او ټولنیز زیانونه هم خلکو ته اړوي. دلته د هوا، اوبو او خاورې ککړتیا په لوړه کچه شتون لري او د میلیونونه انسانانو ژوند یې له خطر سره مخ کړی دی.

د هیواد پلازمینه کابل چې د هیواد په کچه تر ټولو ګڼ میشته ښار دي، له ګڼو چاپیریالي ګواښونو سره مخ دي، هوا یې ډیره ککړه او د اوبو د ککړتیا کچه یې ویرونکي ده، سربیره پر دې غږیزې ککړتیاوي، لیدونکي ککړتیاوي او ګڼې نورې چاپیریالي ستونزې پکې پریمانه دي.

په دې لیکنه کې د کابل ښار د هوا په ککړتیا، عواملو او حل لارو باندې بحث کو.

په پیل کې د هوا ککړتیا په لنډو ټکو کې تعریفو او ورپسې اصل موضوع ته راځو.

د هوا د ککړتیا لپاره ډول ډول تعریفونه وړاندې شوي دي د بیلګې په توګه، په اټومسفیر کې د بهرنیو موادو زیات شتون او غلظت په هغې کچې چې د انسانانو روغتیا ته ګواښ پیښ کړي د هوا ککړتیا ویل کیږي، یا هم د اټوموسفیر د ګازونو په جوړښت کې بدلون ته د هوا ککړتیا وایو، او ....

کابل ښار د شاوخوا پنځه میلیونه وګړو نفوس په لرلو سره د نړۍ یو له ککړو ښارونو څخه دی دلته د هوا، اوبو، غږیزې او خاورې ککړتیا ټول ډولونه شتون لري. د کال په اوږدو کې ددې ښار هوا له روغتیایي پلوه د تنفس وړ نه وي له همدې کبله ده چې ددې ښار ګڼ شمیر وګړي هر کال په ډول ډول هغو ناروغیو چې د هوا له ککړتیا څخه رامینځته کیږي اخته کیږي او ډیرې هم خپل ژوند له لاسه ورکوي. په یوه ټولنه کې د وګړو ډیروالی د هوا له کیفیت سره مستقیمه اړیکه لري، په دې برخه کې د خلکو د پوهې او ښه کلتور ونډه هم د پام وړ ده، یعنې د خلکو ډیروالی د هوا دککړتیا سبب ګرځي، او که چیرته د خلکو  دپوهې او فرهنګ کچه ټیټه وي دا ستونزه نوره هم جدي کوي او په ګواښ بدلیږي.

لکه څنګه چې مو وړاندې وویل د کابل ښار هوا د کال په اوږدو کې ککړه وي ولې د کال په وروستۍ فصل یا ژمي کې دا ککړتیا خپلې وروستۍ او مرګونې کچې ته پورته کیږي، تردې چې ډیرۍ وختونه کابل د نړۍ د ککړو ښارونو په سر کې راولي، دڅو ورستیو کلونو ارقامو ته په کتلو سره یاده ستونزه د کنترول او مدیریت په ځای کال تر بله دجدي کیدو په لور روانه ده.

 د هوا ککړتیا په نړیواله کچه د ټولو ساکښو لپاره یو ستر ګواښ دی او هره ورځ د زرګونه انسانانو ، حیواناتو او نباتو ژوند اخلي دبیلګې په توګه  په نړیواله کچه هره ورځ (۵۵۰۰) ماشومان له ککړې هوا، اوبو او خوړو څخه د ګټې اخیستنې له امله مري او تر دې په لوړه شمیره ماشومان هم روغتونونو ته لیږدوي، دا نه یواځې ماشومان دي چې له دې مرګونې ښکارندې سره مخ دي بلکې هر ژوندی ساوی له یادې ستونزو او ګواښ سره مخ دی.

یوه څیړنه چې په کابل ښار کې ترسره شوې ښیي چې د کابل په روغتونونو کې زیاتره کسان له هغوئ ناروغیو شکایت کوي کومې چې د هوا له ککړتیا څخه رامینځته کیږي، څیړنه ښکاروي چې یواځې «اندراګاندي» روغتون ته د ورځې تر درې سوه ډیر ماشومان له تنفسي ناروغیو څخه د درملنې په موخه مراجعه کوي. دلته ځکه ماشومان د بیلګې په توګه یادوم چې په انساني ټولنو کې دوه ډلې دي چې د هوا ککړتیا یې تر نورو ډیر ګواښي ۱- ماشومان ۲- ډیر عمر لرونکي کسان.

د کابل ښار د هوا ککړتیا بیلابیل عوامل لري چې دلته یې دځو هغو یادونه کوم.

**د وګړو ډېروالی**: لکه څنګه چې مو وړاندې یادونه وکړه په کابل ښار کې تر پنځه میلیونه انسانانو ډیر کسان ژوند کوي، په دې توګه د کابل ښار په هر کیلومتر کې نیږدې (۸۰۰۰) کسان اوسیږي په داسې حال کې چې دا ښار یوازې د درې میلیونه وګړو لپاره پلان شوی دی. د وګړو ډېروالی په زیرمو فشار راولي، ټولنیز فعالیتونو زیږوي او ددوئ کړنې ډول ډول چاپیریالي ګواښونه رامینځته کوي. د کابل ښار د هوا دککړتیا له عواملو څخه یو همدا د وګړو ډېروالی دی.

**بې پلانه ښاري پراختیا:** د یو این هبیتات UN-HABITAT دڅیړنو له مخې کابل ښار له ۷۰-۷۵ سلنه له پلان پرته پراختیا موندلې. غیرپلاني پراختیا او رغاونه نه یوازې ګڼې چاپیریالي ستونزې رامینځته کوي ترڅنګ یې د زیرمو د بیځایه مصرف سبب هم کیږي. په غیرپلاني سیمو کې اکثراً د زرغونو سیمو لپاره ځاي په پام کې نه نیول کیږي، اوبه دځمکې له تله رابهر او په بې رویه توګه مصرفیږي، د سون لپاره تر ډیره مضره ګاز تولیدونکي توکې کارول کیږي لکه پلاستیکونه او رابړ، خځلې د ویالو او کوڅو په مینځ کې اچولې کیږي او خاوره پکې په زهري موادو ککړیږي، ځکه یې دښار دهوا دککړتیا په عواملو کې راولو.

**د زرغون پوښښ لږوالی**: ونې او په ټوله کې زرغون پوښښ نه یوازې د انسان روان ته سکون وربښې تر څنګ یې د ژوند ترټولو اړینه اړتیا اکسیجن هم برابروي، د کابل ښار د وګړو شمیر ته په کتو اوسنی زرغون پوښښ ډیر کم دي او نشي کولای چې دکابل ښار ټولو وګړو ته د اړتیا وړ پاکه هوا او وړ زرغون چاپیریال برابر کړي. زرغون پوښښ د نورو پریمانه ګټو ترڅنګ د خاورې له توریدنې مخینوی کوي، د خځلو لیږد له یوې سیمې بلې ته نه پریږدي، هوا فلتروي او د اوبو په خوندیتوب کې مرسته کوي.

**د سرکونو خاموالی**: خام سرکونه له دو لارو د هوا د ککړتیا سبب ګرځي لومړی داچې د وسایلو ماشینونو ته زیان اړوي او زیانمن شوی یا خراب ماشینونو د جوړو هغو دوه تر درې برابره ډیره دهوا دککړتیا سبب کیږي، دوهم له یادو سرکونو څخه پورته کیدونکي ګردونه او خاورې له ځان سره د هوا دککړتیا لپاره کافي اندازه مضر ذرات لیږدوي او د ککړتیا باعث یې کیږي.

**د چاپیریالي قوانینو او پالیسیو نه پلې کیدل**: که څه هم چاپیریالي پالیسي او قوانین په خپل ذات کې نیمګړتیاوې لري او ډیر کار ته اړتیا لري ولې له بده مرغه کومې چې شتون لري هغه هم یوازې د کاغذ پرمخ دي او نه پلې کیږي.

**د معیاري ترانسپورتیشن نشتون**: په کابل ښار کې تر شپږ سوه زره ډیر موټرونه شتون لري سربیره پردې ګڼ شمیر موترسایکلونه او نور انجن لرونکې وسیلې هم شته دي چې هره ورځ زرګونه لیتره تیل او ګاز سوځوي د دوئ د فعالیت په پایله کې هوا ته ډول ډول مضر ګازونه لکه د سلفر اکسایدونه، د کاربن اکسایدونه او د نایتروجن اکسایدونه خپریږي او په مرګونې کچه د هوا د ککړتیا سبب کیږي دلته ستونزه نه یواځې د ډیرو موټر فعالیت دي، د موټر زوړوالی او عوارض هغه څه دي چې دا ګواښ یې په ناورین بدل کړی، د معیاري او عامه ترانسپورت نشتون هغه څه ده چې د شخصي او وړو موټر د فعالیت ډیروالې ته یې زمینه برابره کړې، په ښارونو کې د موټرو ډیروالې د لارو د بندیدلو سبب ګرځي د یاد بندښت په پایله کې یو موټر د ډیر وخت لپاره روښانه پاتې کیږي او په دې توګه د مضره ګازونه د تولید کچه لوړیږي، د معیاري تمځایونو نشتون هم له دې ستونزې سره یوځای ددې باعث کیږي چې کابل ښاریان د پاکې هوا په ځاي لوګي تنفس کړي.

**د ټولپوهاوي نشتون**: د چاپیریال په اړه د خلکو د پوهې کچه ډیره ټیټه ده له بده مرغه اړوندو ادارو هم څومره چې اړینه په دې برخه کې کار ندي کړی، مدني ټولنې، رسنۍ او دیني علما هم په دې برخه کې پړ دي او خپل مسولیت یې سرته ندی رسولی.

**غیر معیاري سون او بې وزلي**: له ډیره بده مرغه د هیواد تر نیمایي ډیر وګړې د بې وزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي، بېوزلۍ دچاپیریالي ستونزو په ډیروالي باندې مستقیم اغیز لري، کله چې څوک د معیاري سون توکو د پیرلو توان ونلري مجبوره کیږي چې د ورځینو چارو او ګرمولو په پار له غیر معیاري او زهري توکو څخه د سون لپاره کار واخلي پلاستیکونه او پلاستیکي توکې، رابړ، تیکې، ټیټ کیفیت لرونکې نفت او ګاز، چرمونه، او... هغه مواد ده چې د سون په پایله کې لوړه کچه مضره ګازونه تولیدوي په کابل ښار کې د یادو توکو د مصرف کچه ډیره لوړه او ویرونکې ده، نه یواځې بې وزله خلک، له بده مرغه په ګڼه مواردو کې ستر پانګوال او سرمایه لرونکې هم په دې چاره لاس پورې کوي، دخپلو چارو د پرمخ وړلو لپاره غیر معیاري توکې مصرفوي او د هوا دککړتیا سبب کیږي.

سربیره په پورته یادو شو عواملو ګڼ نور عوامل هم شتون لري چې د کابل ښار هوا په مرګونې کچه ککړوي؛ لکه د ځځلو دبیا ګټې اخیستنې یا ریسایکلینګ سیستم نشتون، د کانالیزاسیون نشتون، د خلکو بې پروایي، بې وزلي، د خلکو نه همکاري له اړوندو ادارو سره، د ځارنې د دقیق سیستم نشتون، د حمامونو، بټیو، قصابیو، فابریکو، مارکیټونو او .... خپلسري او غیر مسولانه فعالیتونه دښار په مینځ کې او....

له چاپیریالي ستونزو څخه د مخنیوي او ورسره د مبارزې لپاره اړینه ده په دې برخه کې شته قوانینو، پالیسو او مقرراتو ته بیا کتنه وشي، د قوت ټکې پلي، د ضعف ټکې په ګوته او د هر اړخیز پلي کیدلو لپاره یې یو منظم

میکانیزم رامینځته شي، دچاپیریالي خوندیتوب او هوا له ککړتیا څخه د مخنیوي په موخه باید کابل ښاریانو ته ځلرویشته ساعته پاکه برښنا په واک کې ورکړله شي ترڅو د فوسیلي توکو په مصرف کې تر یوه بریده کموالی راشي، په دې برخه کې کولای شو د لمریزې برښنا له پوتنشیل څخه ګټه واخلو په همدې توګه دښار په هره برخه کې د هوا د کیفیت د تثبیت یا پیژندنې آلي ولګوو، د هوا د ککړتیا ستر او واړه عوامل وپیژنو، له یو بل څخه یې بیل کړو او له هر یوه سره د مبارزې لپاره منظم پلان جوړ او پلې کړو، دچاپیریالي خوندیتوب د اهمیت په اړه ټولپوهاوی پراخ کړو کور په کور او کوڅه په کوڅه خلک خپلو مسولیتونو ته متوجه او په دې توګه دهوا له ککړتیا څخه مخنیوی وکړو، د ټیټ کیفیت لرونکې توکو له واردولو څخه مخنیوی وکړو دا چاره باید د ستندرد او نورو اړوندو ادارو په مرسته ډیر په جدیت سره پلې شي، په ماشینریو کې د عوارضو د پیژندنې سیستمونه ولګول شي ترڅو هغه ماشینونه وپیژندل شي چې تخنیکي ستونزې لري او د هوا دککړتیا سبب کیږي، د حیواناتو مسلخونه یا حلال ځایونه باید له ښار بهر ولیږدول شي او له استوګنیزو محلونو څخه لیري په معیاري توګه ورغاول شي، د تصمیم نیونو په ټولو چارو کې خلکو ته پراخ ګډون ورکړل شي، د سرکونو رغاولو ته ځانګړې پاملرنه وشي، ټول هغه عمومي او فرعي سرکونه چې د تګ راتګ په مخ ترلي باید پرانیستل شي ځکه وړاندې مو وویل چې د سرکونو بندښت د هوا په ککړتیا کې خپل ځانګړې اغیز لري له همدې کبله پکار ده چې یاد سرکونه پرانیستل او د ګټې اخیستنې وړ وګرځول شي، د جوماتونو، رسنیو او قومي مشرانو له ځواک څخه د ټول پوهاوي په برخه کې کار واخیستل شي او داسې نور.

د کابل ښار اوسنۍ بې پلانه پراختیا ته په کتلو سره خورا اړینه ده چې دچاپیریالي ګواښونه په ځانګړې توګه د هوا ککړتیا د مخنیوي له پاره یو ځانګړې میکانیزم ترلاس لاندې ونیول شي، دا میکانیزم باید له اړوندو ادارتو سره په همغږۍ په داسې ډول رامینځته او پلی شي چې له یوې خوا د شته چاپیریالي ناخوالو په له مینځه وړلو کې مرسته وکړي او ترڅنګ یې دټولو هغو نویو پروژو او چارو مخینوی وکړي چې د ژوند چاپیریال او زیرمو ته زیان اړوي، دا نهایت اړینه ده چې د ښار په پراختیا کې پایښتې وده یا Sustainable Development په پام کې ونیول شي په دې کار سره به نه یواځې دچاپیریالي ګواښونو له زیاتیدو څخه مخنیوی شوی وي ترڅنګ به یې پایښتي او د اوسني عصر اړتیاو ته ځواب ویونکی ښارونه ولرو.

هوا نه یواځې په کابل ښار کې ککړه ده؛ بلکې د افغانستان ګڼ ستر ښارونه له دې ستونزې سره مخ دي په ځانګړې توګه هغه پنځه یا شپږ ستر ښارونه چیرته چې د خلکو تراکم ډیر او د صنعتي فعالیتونه ترڅنګ ګڼ ټولینز او کرنیز فعالیتونه پکې ترسره کیږي.

دهوا ککړتیا د نورې نړۍ په څیر افغانستان ته هم د روغتیایي زیانونه ترڅنګ هرکال ګڼ مالي تاوانونه اړوي څکه خو اړینه ده چې د پورته حل لارو په پام کې نیولو او پلې کولو سره له دې ښکارندې سره مبارزه او مخنیوی یې وکړو، ترڅو پاک د اوسیدلو وړ او پرمختللي ښارونه ولرو.

**پایله:** د کابل ښار هوا ډیره ککړه او د تنفس وړ ندي څکه خو هرکال زرګونه کسان په مرګوني ناروغیو اخته کوي او ددې ترڅنګ ګڼ مالي او ټولنیز زیانونه هم خلکو ته اړوي، دکابل ښار په شمول د افغانستان په ټولو په ځانګړې توګه سترو ښارونو کې د هوا ککړتیا څو ستر عوامل لري چې پورته مو ورڅخه یادونه کړې ده، لکه بې وزلي، دخلکو دپوهې ټیټه کچه، دقوانینو او پالیسو نه پلې کیدل، ټیټ کیفیته وارداتي او تولیدي توکې چې د ورځینو ژوند چارو لپاره مصرفیږي، دسرکونو خاموالی او بندښت، د معیاري ترانسپورټیشن او تمځایونو نشتون، بې پلانه ښاري پراختیا او زرغون پوښښ ترڅنګ یو شمیر نور چې پورته مو ورڅخه یادونه کړې ده. دکارنده او ګټورو میکانیزمونو په تر لاس لاندې نیولو سره کولای شي په لنډمهاله، مینځمهاله او اوږدمهاله ډول سره له دې ګواښونو سره مبارزه وکړو او مخه یې ونیسو، د لیکنې په لړ کې مو ګڼ نور موارد هم د حل لارې په بڼه وړاندې کړي دي.

د پرځان بسیا، پرمختللي او له چاپیریالي ګواښونو خوندي افغانستان په هیله.


اخځلیکونه

1. الوده گی هوا کابل و راه حل ها، روزنامه هشت صبح
2. احساس، امان الله، په کابل ښار کې دبشري ناورین د رامینځته کیدلو ویره، تاند
3. د اریانا نیوز تلویزیون ګزارش د کابل ښار د هوا دککړتیا په تړاو، یوټیوب
4. www.arabnews.com ,Air pollution becomes Afghanistan’s silent killer